سرلوڅ مرادزی ۱۳ / ۰۸ / ۲۰۲۲

د جمهوریت سقوط کې د عبدالله نقش ته لنډه کتنه

د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ غمیزې په تړاو:

عبدالله عبدالله چې د خپل کورنۍ پېژند او خپل بیولوژیکي پلار په اړه په رسنیو کې غوڅه خبره نه کوي، په سیاسي دریځ کې هم تر ډېره بریده ډوبه او مرموزه څېره ګڼل کېږي. دا چې ولسمشر اشرف غني د ABN سره په وروستۍ مرکه کې د زلمي خلیلزاد په اړه وایي چې «زلمی خلیلزاد 2 روی نه، بلکه 9 روی دارد»، د عبدالله په اړه هم صدق کوي. عبدالله هم دوه مخونه نه، بلکې تر نهه زیات مخونه لري!

ع. عبدالله له افغانانو خپل بیولوژیکي پلار چې له پنجشیر څخه وو، پټ ساتي او پرځای یې غلام محی الدین زمریالی معرفي کوي. په حقیقت کې غلام محی الدین زمریالی د عبدالله هیڅ نه کېږي، بلکې میرزا غلام محی الدین چې بیخي بېل شخص او د کندهار ولایت اوسیدونکی وو؛ د ده بیولوژیکي پلار نه، بلکې پلندر دي. عبدالله نه یوازې خپل پلار له خلکو پټوي، بلکې د خپل پلندر په معرفي کولو کې هم درواغ وایي. یعنې د ده پلندر غلام محی الدین زمریالی نه، بلکې میرزا غلام محی الدین دی چې بیخي بېل شخصیت دی. عبدالله دا درواغ د سیاسي موخو لپاره وایي!

د ع. عبدالله د پوره بیوګرافۍ د پېژند لپاره، په افغان جرمن انلاین کې د ارواښاد سید خلیل الله هاشمیان لیکنې«توضیح پیرامون هویت قلابی داکتر عبدالله» تر سرلیک لاندې چې د نوموړي د لیکنو لیست کې ۵۸ شمېره ده، مراجعه کولای شی.

د جمهوریت په سقوط کې دواړه مرموزې څېرې، خلیلزاد او ع. عبدالله په ډېرو برخو کې سره ورته نقش لوبوي. د دواړو افغاني هویت نه خوښېږي او ترې کرکه لري. خلیلزاد په څرګنده له افغاني هویته انکار کوي او امریکایي ګټو ته ځان د یوه مزدور کچې ته ټیټوي. عبدالله بیا د هېواد په شمالي ولایتونو کې ولسونه لمسوي چې له افغاني هویته تېر شي، افغانستان دې خراسان شي، خلک دې تذکرې نه اخلي او ځانونه دې افغانان نه شمېري.

دا متل چې وایي: کبوتر با کبوتر وزاغ با زاغ کند پرواز، د خلیلزاد او ع. عبدالله د اندیوالۍ او نقش په اړه مناسب لېدل کېږي!

ع. عبدالله په سیاست کې د دریځ له مخې څو مخې او اپورتونیست دی. نوموړی لومړی د ببرک کارمل ډلې د پرچمیانو څخه وو، بیا یې لکه مار پوټکی بدل کړ او استحاله (Metamorphose) یې وکړه اخوانی شو، یعنې جمعیتی شو. وروسته د احمدشا مسعود[1] سیاسي ویاند او د نظارشور د مشرتابه غړی شو. بیا د سیاسي ګټو او لوړو دولتي څوکیو د نېولو لپاره یې کله ځان د اسلامي جمعیت رسمي غړی او کله یې ځان بې پلوه ښوده، خو د دې ټولو نخرو سره سره نوموړی د اسلامي جمعیت ژمن غړی پاتې شوی دی.

ع. عبدالله د اسلامي جمعیت په استازیتوب د عبدالرشید دوستم، محقق او خلیلي سره یو ځای په تېرو شلو کلونو کې هغه رول ولوباوه، لکه بچه سقاو چې د شلمې پېړۍ په دریمه لسیزه (۱۹۲۰ـ ۱۹۲۹) کې د اماني پیر په وړاندې لوبولی وو. سقاو د یوې ډلې نورو غلو سره د غازي امان الله خان په مشرۍ، متمدن او عصري دولت رنګ کړ. عسکري او ملکي علمي کادرونه یې له دندو ګوښه، له هېواد فرار ته یې مجبور او له تیغه تېرکړل او پرځای یې غله او لوټماران وګمارل. د ښونځیو دروازې یې وتړلې او د مدنیت او ترقۍ ټول پلانونه یې شنډ کړل. سقاویانو هغه مهال هېواد یوې توري دورې ته ور ټېل وهه!

ع. عبدالله او ډلې یې چې هغه مهال یې برهان الدین رباني او احمدشا مسعود سرخېلان ول، د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې د افغانستان لپاره د پخواني ولسمشر ارواښاد ډاکټر نجیب الله او د ملګرو ملتو د سولې ګډ پلان شنډ کړ، کورنیو جنګونو ته یې لار اواره کړه چې یوازې کابل کې ۷۰ کابلیان له تیغه تېرشول. د طالبانو د لومړۍ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پلا پاچاهي وروسته دې ډلې په تېرو شلو کلونو کې بیا هم د سقاو د وخت پشان د مرکزي حکومت په وړاندې ورته تګلار وچلوله.
دوی لومړی د هېواد د اساسي قانون په وړاندې چې نوی خپور شوی وو، دریځ ونیو. په اساسي قانون کې یې د تسجیل شوي ریاستي نظام په وړاندې د پارلماني نظام بولاله رامنځته کړه، د مرکزي حکومت په وړاندې یې د فیډرالیزم نغمه توده وساتله، هېواد کې یې ملوک الطایفی راژوندی کړه او مرکزي حکومت یې د اجراییوي ریاست په رامنځته کېدو دوه ځایه کړ او د مرکزي حکومت په منځ کې یې موازي حکومت جوړ کړ.
عبدالله او ډلې یې په داسې حال کې چې په سلو کې پنځوس دولتي واک یې د خلیلزاد او جان کیري په ملاتړ د ځان کړی وو، په پاتې نور پنځوس برخه کې یې هم چنې وهلې او حکومت یې کار ته نه پرېښود. دې ډلې په حکومت کې د غوړې ونډې سره سره، د سبوتاژ دنده پر مخ بیوله.
د عبدالله ډلې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ کال په ټولټاکنو کې هم د سبوتاژ دنده پر مخ بېوله. هڅه یې دا وه چې ټولټاکنې په ولس کې بې اعتباره کړي. عبدالله چې د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کې یې له ولسمشر اشرف غني یې ماتې وخوړه، ځان پخپلسر ولسمشر اعلان کړ. د کابل په شمال، چریکارو کې یې د سرک پر سر په یوه جوړه شوې دروازه، ځان د ولسمشر پټوګه اعلان کړ او حقیقت کې یې ځان د یوې برخې، یعنې شمالي افغانستان ولسمشر وباله. په ۲۰۱۹ کال ټاکنو کې هم چې لومړی یې ټاکنې نه منلې، خو وروسته له مجبوریته ولسمشر غني سره ټولټاکنو ته ودرېد. بیا یې هم له ماتې وروسته په سپېدار مانۍ کې پخپلسر ځان ولسمشر اعلان کړ او په درواغو یې د ولسمشرۍ لوړه وکړه. همغې لوړې یې ورمیږ مات کړ او اوس ټیټې سترګې، د خلیلزاد په ملاتړ او سپارښتنه د حامد کرزي سره یو ځای د طالب واکمنۍ لاندې د بې ننګۍ شپې تېروي!
د خلیلزاد، عبدالله او حامد کرزي خبیثه مثلث د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ مې چې جمهوریت پکې سقوط وکړ او د افغانانو د شلو کلونو برياوې پکې په اوبو لاهو شوې، مسوولیت پر غاړه لري. دې خبیثه مثلث طالبانو سره په سازش کې د هېواد برخلیک د سقاوي توري دورې پشان یوې بلې توري دورې ته وروغورځاوه!
کوم ویجاړوونکي رول چې سقاو د شلمې پېړۍ په دریمه لسیزه کې د اماني دورې په وړاندې لوبولی وو، عبدالله او ډلې یې هم ورته رول د یوویشتمې پېړۍ په دوهمه او دریمه لسیزه کې د ولسمشر غني په وړاندې ولوباوه.
هلته که سقاو د انګریزانو د جاسوس پیرکرم شا، لارنس او په کابل کې د انګریز سفیر همفریز په مرسته او ملاتړ د غورځنګ د ماتې لامل شول، په دا مهال عبدالله د امریکا د ګوډاګي خلیلزاد په مرسته او ملاتړ د ولسمشر غني د نیمګړي فصل د ماتې سبب شو.
هغه مهال که د غازي امان الله خان له هېواده د وتلو په پایله کې د سقاو توره دوه په افغانانو وتپل شوه، دا ځل له هېواده د ولسمشر غني په جبري ویستلو سره ، بله توره دوره په هېواد وتپل شوه.
هلته سقاویانو، سقاو واکمن کړ؛ خو دلته سقاویانو طالبان واکمن کړل!
تاریخ په یوه پېړۍ کې دا ځل هم په ډېر ناوړه ډول تکرار شو!

یادونه:

(۱) کابل کې د کاکتوس په نوم د یوې خپرنۍ مسوول چلوونکی ښاغلی مختار لشکري، د احمدولي مسعود څخه پوښتنه کوي چې ستاسو ورور احمدشاه او کورنۍ مود «مسعود» تخلص له څه وخت راهیسې کاروی او څنګه موغوره کړ؟ احمدولي په ځواب کې وایي چې دغه «مسعود» د پاکستاني چارواکو لخوا، د دې لپاره چې احمدشاه ونه پېژندل شي، پر هغه کېښود او وروسته موږ ټولو دغه د تخلص پټوګه غوره کړ. دغه مرکه په یوټیوب کې ترلاسه کېدای شي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ